Afghanistan Digital Library

adl0761

http://hdl.handle.net/2333.1/hdr7srgg



This is a PDF version of an item in New York University's Afghanistan Digital Library (http://afghanistandl.nyu.edu/). For more information about this item, copy and paste the "handle" URL above into a web browser. When referring to or citing this item please use the "handle" URL and not this document or the URL from which you downloaded it.

All works presented on New York University's Afghanistan Digital Library website are, unless otherwise indicated, in the public domain. The images available on this website may be freely reproduced, distributed and transmitted by anyone for any purpose, commercial or non-commercial.

NYU Libraries, Digital Library Technical Services, dlts@nyu.edu

۳۵

هوالله

نمره ۳۰/۳۲

# اصولنامهٔ

## استخدام اتباع خارجه

## درافغانستان

تاریخ طبع : — ۱۵ اسد ۱۳۱۸

تعداد طبع ثانی (۵۰۰) جلد

درریاست عمومی مطابع طبع شد

http://hdl.handle.net/2333.1/hdr7srgg Image 2 of 8

بسم الله الرحمن الرحیم

## اصولنامهٔ استخدام اتباع خارجه در افغانستان

۱ : ــ در موقع انعقاد قرار داد با مستخدم بایستی تابعیت و شغل و درجهٔ شهادت نامهٔ مستخدم ومدت استخدام بامعاش و باقی اموریکه مربوط باستخدام است توضیح گردد .

۲ : ــ مستخدمین دولت علیه افغانستان مجبور بمتابعت قوانین واصولات داخلیه مملکتی هستند .

۳ : ــ مستخدمین بامور سیاسی ومذهبی افغانستان مداخله و به تجارت اشغال نمیتوانند، تخلف از احکام این اصل علاوه بر تطبیق اصولات مملکت قرار داد آن را بطوری فسخ میکنند که هیچ حقی را برای مستخدم نمیگذارد .

۴ : ــ رخصتی های معموله مطابق قوانین دولت علیه افغانستان باستثنای رخصتی مریضی که در اصل (۵) توضیح شده بمستخدمین داده میشود رخصتی های ملی ومذهبی مستخدمین نیز بر خصتی های ضروری وتفریحی که در اصولنامهٔ حاضری معین شده است محسوب خواهد شد .

## په افغانستان کی د خارجه اتباعو د استخدام اصولنامه

د مستخدم سره د قرار داد د انعقادیه وخت کی باید چه د مستخدم تابعیت ، شغل ، د شهادتنامی درجه ، او د استخدام مده ، سره د معاش ، او نور کارونه چه په استخدام اړه لري ، توضیح سی .

د افغانستان د لوی دولت مستخدمین مجبوردی چه د ملک د داخلی قوانینو او اصولو متابعت به کوی .

مستخدمین د افغانستان په سیاسی او مذهبی کارو کی مداخله او په تجارت کی اشغال نه سی کولای ، ددی اصل د احکامو څخه تخلف کول د مملکت د اصولاتو د تطبیق څخه علاوه د ده قرارداد په داسی ډول سره فسخ کوی چه د مستخدم د پاره هیڅ حق نه پریږدی .

معمولی رخصتی سم د افغانستان د لوی دولت د قوانینو سره پرته د مریضی د رخصت څخه چه په (۵) اصل کی توضیح سویده و مستخدمینو ته ور کولی کیږی د مستخدمینو ملی او مذهبی رخصتی به هم په ضروری او تفریحی رخصتیو کی چه د حاضری په اصولنامه کی معین سویدی حسابیږی .

http://hdl.handle.net/2333.1/hdr7srgg Image 4 of 8



۵ :ـ مدت مریضی مستخدم درداخل وخارج سالانه بامعاش یکماه است درماه دوم مناصفهٔ معاش داده میشود واگر مریضی مستخدم از دو ماه تجاوز کند حکومت افغانستان صلاحیت فسخ قرار داد را دارد؛ در صورت فسخ قرار داد سفرخرج مرا جعت مطابق قرارداده باو داده خواهد شد.

تبصره

رخصت مریضی مستخدمین درداخل بتصدیق داکتر دوائر مربوطه و ازمستخدمینیکه بنابر عدم امکان معالجه آن ها در افغانستان بخارج میروند به تصدیق نمایندهٔ افغانی وداکتر معالج معتبر شناخته میشود.

۶ :ـ هر گاه قرارداد مستخدم قبل ازمیعاد معینه ازطرف مقامات صلاحیت دار بنابر التوای کار وغیره امور لازم فسخ دیده شود در صورتیکه موعد قرار داد ازشش ماه الی یکسال باقی باشد علاوه برسفر خرج یکماهه معاش واگر اضافه از یکسال مانده باشد دوماهه معاش باسفر خرج بازگشت بمستخدم پرداخته قرارداد اورا فسخ می نمایند.

تبصره

هر گاه سوء رفتار مستخدم مشاهده شود قرارداد آن فسخ وعلاوه بر تطبیق اصولات مملکت

دمستخدم دمریضی مده پهداخل اوخارج کی په کال کی سره دمعاش یوه میاشت ده، پهدوهمه میاشت کی نیم معاش ورکول کیږی، کهچیری دمستخدم مرض ددو ومیاشتو څخه تیرسی نو د افغانستان حکومت دقرار دادفسخ اختیار لری، دقرار داد دفسخ په صورت کی به د بیر ته تګ سفرخرڅ سم دقرارداد سره وده ته ورکړه سی.

«لاربیوونه»

دمستخدمینو دمریضی رخصت پهداخل کی دمربوطه دوائرو دداکتر په تصدیق او دهغه مستخدمینو څخهچه پهسبب دنه کیدو دعلاج دهغوی دافغانستان کی وخارج ته ځی دافغانستان دنما ینده اود علاج کوونکی داکتر پهتصدیق معتبر بلل کیږی.

که د مستخدم قرار داد دمعین میعا دله مخه دوا کدارو ځایوله خوا څخه دکار دمعطلی یا دنورو کارو پهسبب دفسخ لازم و بلل سی که چیری دقرارداد موعدشپږ ومیاشتو څخه تریوه کال پوری باتهوی نوعلاوه پرسفرخرڅ دیوی میاشتی معاش او کهدیوه کال څخهزیات باتهوی ددوو میاشتو معاش سره ددیر تهراتګ دسفرخرڅ ومستخدم ته ورکول کیږی او قراردادی فسخ کیږی.

«لاربیوونه»

که چیری دمستخدم بدکردا ری ولیده سی نو قرار دادئی فسخ اودمملکت داصولاتو دتطبیق

http://hdl.handle.net/2333.1/hdr7srgg Image 5 of 8

## ضمیمهٔ اصولنامهٔ استخدام اتباع خارجه در افغانستان

۱ : مستخدمینیکه مدت قرارداد شان اختتام می‌یابد هرگاه از مقامات صلاحیت‌دار بموجب اصل ( ۷ ) تجدید و تمدید نشود سفر خرچ برای شان داده نمیشود تنها در ختم قرارداد اخیر حین مراجعت بوطن شان برای یکدفعه مستحق سفر خرچ دیده می شوند .

۲ : رخصت تفریحی معلمین معارف مخصوصاً درایام تعطیل عمومی مکاتب اعطامیشود بدیگر اوقات استحقاق رخصت تفریح را ندارند ورخصتی ایام ملی و مذهبی شان منجملهٔ ایام رخصت ضرورت آن ها

مورخه ۲۸ جوزا ۱۳۱۷

## په افغانستان کی دخارجه اتباعو داستخدام داصولنامی ضمیمه

۱ ــ هغه مستخدمان چه ددوی د قرارداد موده پوره کیږی هر کله چه دصلاحیت دارو مقامو له خوا د (۷) اصل به موجب ددوی قرارداد اوږد او نی سی و ددوی ته سفرخرچ ادور کول کیږی، یوازی دوروستنی قرارداد په ختمیدو کی دتګ په وخت وخپل وطن ته دیوه وار دپاره دسفرخرچ مستحق ګڼل کیږی .

۲ ــ دمعارف د معلمانو تفریحی رخصت مخصوص دمکتبو دعمومی تعطیل په ورځو کی ورکول کیږی، په نورو ورځو کی دتفریحی رخصت استحقاق نه لری او ددوی دمذهبی او ملی ورځو رخصتی ددوی دضرورت د رخصت د ورځو دجملی څخه شمیرل کیږی .